بسم الله الرحمن الرحیم

د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي ریاست

د تحریراتو آمریت

د متحدالمآلونو څانګه

متحدالمآل نمبر: ۴۱

تاریخ: ۱۱/ رمضان المبارک/ ۱۴۴۵ هق
مصادف: ۲/حمـــــــل/ ۱۴۰۳ هش

☐عاجل ☐عادی ☐اطمینانیه ☐ابلاغیه ☐سایر

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو ، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

و بعد: د ستري محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست د متحدالمآل نمبر (۱۳) مورخ ۱۴۴۵/۳/۱۶هق په تعقیب احتراماً لیکو:

د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام د هدایت په اساس د نشه ئي موادو متعلق د جزاګانو کړنلاره ترتیب شوي وه او د مشرتابه محترم عالي مقام تر تائید وروسته د ستري محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست د متحدالمآل نمبر (۱۳) مورخ ۱۶/ربیع الاول/۱۴۴۵هق مصادف ۹/میزان/۱۴۰۲هش په توسط ټولو محکمو ته استول شوې ده.

دا چې ځیني موارد په یاده کړنلاره کې نه وو نو په دې اساس د ستري محکمې د محترم مقام د هدایت مطابق د نشه ئي موادو متعلق د جزاګانو د کړنلارې ضمیمه ترتیب شوه او سلسلتاً د ستري محکمې د مقام د دفتر ریاست د مکتوب نمبر (۲۲۳) مورخ ۱۴۴۵/۸/۱۶هق په توسط د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام ته وړاندي شوه، په اړه یې مشرتابه محترم عالي مقام د حکم نمبر (۴۴۱۲) مورخ ۱۴۴۵/۸/۲۸هق مصادف ۱۴۰۲/۱۲/۲۰هش په اساس د نشه ئي موادو متعلق د جزاګانو د کړنلارې ضمیمه د یو لړ تغیراتو سره په (۲۶) مادو کې منظوره کړه.

بناءً د نشه یي موادو متعلق د جزاګانو د کړنلارې ضمیمه چې د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام لخوا تائید شوې، د ستري محکمې د محترم مقام د هدایت په اساس، ددې متحدالمآل مل په (۴) ورقو کې د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شوه تر څو ټول محاکم د مواد مخدر په موضوعاتو کې د یادې ضمیمې موافق اجراآت تر سره کړي.

په درنښت

۱۱ / ۹ / ۱۴۴۵ هق

ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء

مفتي عبدالرشید "سعید"
د ستري محکمې
د دارالانشاء عمومي رئیس

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
Post box: 1989
Email: darulinsha@gmail.com
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحیه ، کابل- افغانستان
د معاونیت تیلفون : ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
پست بکس : ۱۹۸۹
ایمیل: darulinsha@gmail.com
ویب سایت: www.supremecourt.gov.af

# د نشه ئي موادو متعلق د جزاگانو د کړنلارې ضميمه

## لومړی موضوع

### په داخل د هيواد کي د ترياکو او چرسو د انتقالوونکي جزاگانې

**لومړۍ ماده:** که يو څوک په داخل د هيواد کي چرس او ترياک د يو ځای څخه بل ځای ته انتقالوي، د گرفتارۍ په صورت کي که د دغه نيول شويو چرسو او ترياکو وزن يو کيلو او يا هم تر يو کيلو کم وي، انتقالوونکي ته يې يو کال بند ورکول کيږي.

**دوهمه ماده:** که د دغه نيول شويو چرسو او ترياکو وزن د يو کيلو څخه پورته تر پنځه کيلو پوري وي، انتقالوونکي ته يې دوه کاله بند ورکول کيږي.

**دريمه ماده:** که د دغه نيول شويو چرسو او ترياکو وزن د پنځه کيلو څخه پورته تر ديرش کيلو پوري وي، انتقالوونکي ته يې دري (۳) کلونه بند ورکول کيږي.

**څلورمه ماده:** که د دغه نيول شويو چرسو او ترياکو وزن د ديرش کيلو څخه پورته وي، د هرو شلو کيلو په زيادت سره يو کال بند زياتيږي، البته نهائي جزاء يې اووه کلونه دي.

**پنځمه ماده:** د ترياکو او چرسو انتقالوونکی که د يادو موادو مالک وي يا يې شريک وي او يا يې هم کرايه والا وي ټول په سزا کي سره برابر دي او مرتکب ته يې د پورته ترتيب موافق بند ورکول کيږي، د يادو موادو انتقالونکی موټر دي دري مياشتي متوقف شي.

**يادونه:** که د نشه ئي موادو انتقالوونکی په کرايي موټر کي ونيول شي، پوره او دقيق معلومات دې وشي، که موټروان واقعاً ناخبره وو د واقعي ناخبرۍ په صورت کي موټر او موټروان ته مسؤليت نه راجع کيږي.

**شپږمه ماده:** دغه نشه ئي مواد چي سزاگانې يې ذکر شوي که چيرې د اسلامي امارت د مؤظفينو سره ونيول شي، د مربوطه محکمي لخوا دې سزا د پورته ذکر شوي موادو مطابق ورکول شي، اسلحه او وسائل دې ورڅخه واخيستل شي او عمومي کمېسيون ته دې وسپارل شي هغوی دې مربوطه مافوق ارکان ته تسليم کړي، هغه دلگۍ ته دې نه ورکوي چي دغه متهم کس پکښې وظيفه اجراء کوي، او که د دوهم ځل لپاره په ياد عمل ونيول شو نو د صف څخه دې وايستل شي.

## دوهمه موضوع

## د نیول شوي چرسو او تریاکو د نیولو څخه وروسته تغیر

**اوومه ماده:** که چرس او تریاک د انتقال په وخت کې د یوه ارګان لخوا ونیول شي او تر نیولو وروسته یې په وزن کې کموالی راشي (د یو چا لخوا کم شي او یا یې بدل کړي)، د یادې موضوع متهمین دې مربوطه محکمې ته واستول شي.

**اتمه ماده:** د نیول شویو چرسو او تریاکو څخه که یې یو کیلو او یا هم تر یو کیلو کم مواد کم کړي وي یا یې بدل کړي وي، مرتکب ته یې یو کال بند ورکول کیږي.

**نهمه ماده:** د نیول شویو چرسو او تریاکو څخه که یې د یو کیلو څخه پورته تر پنځه کیلو پورې مواد کم کړي وي یا یې بدل کړي وي، مرتکب ته یې دوه کلونه بند ورکول کیږي.

**لسمه ماده:** د نیول شویو چرسو او تریاکو څخه که یې د پنځه کیلو څخه پورته تر دېرش کیلو پورې مواد کم کړي وي یا یې بدل کړي وي، مرتکب ته یې درې کلونه بند ورکول کیږي.

**یوولسمه ماده:** د نیول شویو چرسو او تریاکو څخه که یې د دېرش کیلو څخه پورته مواد کم کړي وي یا یې بدل کړي وي، د هر لس کیلو په زیادت سره یو کال بند اضافه کیږي البته نهائي بند یې لس کلونه دي.

**دوولسمه ماده:** د نشه يي موادو متعلق د جزاګانو په کړنلاره او دغه ضمیمه کې د یادو شویو جرمونو دوهم ځل مرتکب ته دې د ذکر شویو جزاګانو څخه ماسوا شپږ میاشتې اضافه بند ورکړل شي او په دورو به هم وهل کیږي، په همدې ترتیب دې د هر ځل ارتکاب په صورت کې شپږ میاشتې بند اضافه کیږي، البته نهائي حبس یې لس کلونه دی.

## دریمه موضوع

## په داخل د هیواد کې د تاریاکو څخه جوړ د بیست موادو د انتقالوونکي جزاګانې

**دیارلسمه ماده:** که یو څوک په داخل د هیواد کې بیست مواد د یو ځای څخه بل ځای ته انتقالوي، د ګرفتارۍ په صورت کې که د دغه نیول شویو بیست موادو وزن یو کیلو او یا هم تر یو کیلو کم وي انتقالوونکي ته یې دوه کلونه بند ورکول کیږي.

**څوارلسمه ماده:** که د دغه نیو شویو بیست موادو وزن د یو کیلو څخه پورته تر پنځه کیلو پورې وي، انتقالوونکي ته یې درې کلونه بند ورکول کیږي، البته د ایله کېدو په وخت کې دې قوي تضمین ځنې اخیستل کیږي.

**پنځلسمه ماده:** که د دغه نیول شویو بیست موادو وزن د پنځه کیلو څخه پورته تر لس کیلو پورې وي، انتقالوونکي ته یې څلور کلونه بند ورکول کیږي.

**شپاړه سمه ماده:** که د دغه نیول شویو بیست موادو وزن د لس کیلو څخه پورته وي، د هر دوه کیلو وزن په زیادت سره یو کال بند زیاتیږي، البته نهائي جزاء یې لس کاله بند دی.

## څلورمه موضوع

## د نیول شویو بیست موادو تر نیولو وروسته تغیر

**اووه لسمه ماده:** که بیست مواد د انتقال په وخت کې د یوه ارګان لخوا ونیول شي او تر نیولو وروسته یې په وزن کې کموالی راشي (د یو چا لخوا کم شي یا یې بدل کړي)، د یادې موضوع متهمین دې مربوطه محکمې ته واستول شي.

**اتلسمه ماده:** د نیول شویو بیست موادو څخه که یې یو کیلو او یا هم تر یو کیلو کم مواد کم کړي یا یې بدل کړي وي، مرتکب ته یې دوه کلونه بند ورکول کیږي.

**نولسمه ماده:** د نیول شویو بیست موادو څخه که یې د یو کیلو څخه پورته تر پنځه کیلو پورې مواد کم کړي یا یې بدل کړي وي، مرتکب ته یې درې کلونه بند ورکول کیږي، البته د ایله کیدو په وخت کې دې قوي تضمین څنې اخیستل کیږي.

**شلمه ماده:** د نیول شویو بیست موادو څخه که یې د پنځه کیلو څخه پورته تر لس کیلو پورې مواد کم کړي یا یې بدل کړي وي، مرتکب ته یې څلور کلونه بند ورکول کیږي، البته د ایله کیدو په وخت کې دې قوي تضمین څنې اخیستل کیږي.

**یوویشتمه ماده:** د نیول شویو بیست موادو څخه که یې د لس کیلو څخه پورته مواد کم کړي وي، د هر دوه کیلو په زیادت سره یو کال بند اضافه کیږي، البته نهائي بند یې لس کلونه دی.

## پنځمه موضوع

## متفرق حکمونه

**دوه ویشتمه ماده:** هر نوع نشه ئي مواد چې د نشه ئي توکو د جزاګانو په کړنلاره کې ذکر شوي دي، د انتقال په صورت کې دې مربوطه محکمه ددغه ضمیمې مطابق جزاء ورکړي.

**درویشتمه ماده:** د ذکر شوي شیانو څخه علاوه هغه مخدره مواد چې لږ واردیږي او لست یې د دې کړنلارې ضمیمه دی، که د یو چا سره ونیول شي؛ که مرتکب په مرکز کې وي نو د مرکز محکمه دې سزاء ورکوي او که په ولسوالۍ کې ونیول سي نو د ولسوالۍ قاضي دې سزاء ورکوي.

**یادونه:** هغه نشه ئي مواد چې پورته ذکر شوي دي یا د دې څخه علاوه وي د اصولي جواز لرلو په صورت کې د پورته ذکر شوي جزاګانو څخه مستثنی دي.

**څلورویشتمه ماده:** دا چې د افغانستان اسلامي إمارت د سیمې د هیوادونو په کچه د خپل دیني او شرعي مسئولیت له مخې د مخدره توکو د مخنیوي لپاره جدي اقدامات کوي او نه غواړي چې د افغانستان څخه خارج ته او یا هم د خارج څخه افغانستان ته نشه ئي مواد انتقال شي، نو په دې اساس د نشه ئي موادو په افغانستان کې د یو ځای څخه بل ځای ته انتقال، د خارج څخه افغانستان ته را انتقال او یا هم د افغانستان څخه خارج ته انتقال په سزا کې سره برابر دي او هغه څوک چې د خارج څخه افغانستان ته نشه ئي مواد را انتقالوي د نشه ئي موادو متعلق د جزاګانو کړنلارې مطابق دې سزا ورکړل شي.

**پنځه ویشتمه ماده:** د هغه نشه ئي موادو چې د انتقال جزاګانې یې د نشه ئي موادو متعلق د جزاګانو کړنلارې او یا هم په دغه ضمیمه کې ذکر شوي دي، که د نیولو څخه وروسته د یو چا لخوا کم شي او یا هم تغیر پکښې راشي، د یادو نشه ئي موادو د انتقال د جزاګانو مطابق دې جزاء ورکړل شي.

**شپږ ویشتمه ماده:** د ابتدائیه محکمې د پورته موادو حکم قطعي دی، البته دغه قطعیت په یو کال سره مؤقت دی.

**(وهو الموفق)**

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
Post box: ۱۹۸۹
Email: darulinsha@gmail.com
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامي څلور لاری، نهمه ناحیه، کابل- افغانستان
د معاونیت تیلفون: ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
پست بکس: ۱۹۸۹
ایمیل: darulinsha@gmail.com
ویب سایت: www.supremecourt.gov.af